**د یوناما مطبوعاتی بیانیه**

**د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**ټیلیفون:** ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱ – ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱
**بریښنالیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب سایټ:** http://unama.unmissions.org

## د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومی منشی د ځانګړی استازی کای ایده وینا

د ډسمبر د میاشتې په ۲۷ نېټه سهار وختي لس تنه افغانان هغه وخت ووژل شول کله چې افغان او نړیوالو وسله والو ځواکونو د کنړ ولایت د نرنګ په ولسوالۍ برید وکړ. د دغې پېښې ډېر تفصیلات لا پوره څرګند نه دي. زموږ د لومړنیو څېړنو له مخې د وژل شویو کسانو ترمنځ اته تنه یې د محلي ښوونځیو زده کوونکي وو. دغلته داسې قوی شواهد او بیلګې هم شته چې په دغه سیمه کې د شورشیانو شتون جوتوي. یوناما د دغې پېښې څېړنې ته ادامه ورکوي څو د دغه حالت په روښانولو کې مرسته وکړي، زه د افغانستان د دولت او د نړیوالو وسله والو ځواکونو هلو ځلو ته په دې برخه کې هر کلی وایم څو چې د څېړنې په برخه کې ورته اقدام ترسره کړي. زه د دغو څېړنو د سرته رسولو پرمهال د ټولو څخه د آرام پاتې کېدو او حوصلې هیله کوم.

ملګري ملتونه د شپې پرمهال د بریدونو د سرته رسولو له امله چې زیاتره وخت د ملکیانو لپاره مرګونې پایلې لري، هغه خطرناکه مغشوشوالی چې ډېری وختونه په داسې حالاتو کې چې د کورنیو حریم تر اشغال لاندې راځي او د محلي چارواکو هغه مایوسي چې د هغوي سره د عملیاتو د نه همغږۍ له امله رامنځته کېږي، په اندېښنه کې دي. د شپې پرمهال بریدونه خصوصا د هغو کورنیو لپاره چې په مستقیم ډول اغیزمنې شوې دي او د افغانستان په کچه د ټولنو لپاره د خوندیتوب او فرهنګي اندېښنو لامل ګرځي. زه به د اړوندو چارواکو سره د دغه ډول موضوعاتو او مسئلو راپورته کولو ته ادامه ورکړم.

یوناما هغه خطرونه چې د شورشیانو د اوسېدنې او د هستوګنې په سیمو کې د هغوي د عملیاتو د کولو له امله ملکي وګړو ته متوجه دي د هغو په اړه اندیښنه لري. دوی اکثرا او په لا جګه کچه د دغو ملکی خلکو د مرګ ژوبلې لامل ګرځي.

زه یو ځل بیا په ټولو و سله والو کسانو غږ کوم چې هر ډول هلې ځلې وکړي څو ملکي وګړو ته زیان راکم کړي او غواړم چې د هغو احتیاطی تدبیرونو پر اهمیت ټینګار وکړم چې د هغو له مخې د ملکیانو او جنګیالیو کسانو ترمنځ توپیر وشي. ډېرو زیاتو هلو ځلو او کوښښونو ته اړتیا ده چې د دغه جاري جریان په شا کړای شي چې ملکي وګړي د وسله والې جګړې له اغیزو څخه په راتلونکی کال کې خوندي وي.

کابل، ۳۱ ډسمبر، ۲۰۰۹